لوړو زده کړو وزارت

لوګر پوهنتون

علمي او محصلانو چارو معاونیت

ښووني او روزنې پوهنځی

کمپیوټر زده کړې څانګه


# د محصلانو لاربنود


ترتیب کوونکی : نوماند پوهنیار الله محمد رازدار ـ د کمپیوټر زده کړې څانګې آمر



۱۴۰۴ هـ . ش ـ ۱۴۴۷ هـ . ق

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کمپیوټر زده کړې څانګې د آمر پیغام

**بسم الله الرحمن الرحیم**

په اوسني عصر کې معلوماتي ټکنالوژي او د کمپیوټر علوم د علمي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له مهمو بنسټونو څخه ګڼل کېږي. د نړۍ چټک پرمختګ ښيي چې د کمپیوټر علومو زده کړه او د نوې ټکنالوژۍ اغېزمنه کارونه د هر هېواد د ودې او ځان بسیاینې لپاره ارزښتناک رول لري. له همدې امله، د مسلکي، متعهدو او نوښتګرو کادرونو روزنه د وخت یوه اساسي اړتیا ده.

د لوګر پوهنتون د کمپیوټر زده کړې څانګه د همدې اړتیا په پام کې نیولو سره هڅه کوي چې د معیاري او عملي زده کړو له لارې داسې متخصص او بااخلاقه کادرونه وروزي چې د کمپیوټر علومو او ښوونې په برخه کې کافي علمي او عملي وړتیا ولري، د ستونزو د حل، څېړنې او نوښت توان پیدا کړي او د هېواد د علمي او تخنیکي پرمختګ په بهیر کې اغېزمن رول ولوبوي.

ګرانو نوو محصلینو! تاسو ته زموږ د څانګې له لوري د زړه له کومې ښه راغلاست وایم. هیله لرم چې د پوهنتون له علمي فرصتونو څخه په غوره توګه ګټه واخلئ، خپلو زده کړو ته په اخلاص او زیار دوام ورکړئ، د پوهنتون اصول او مقررات مراعات کړئ، له استادانو او خپلو ټولګیوالو سره د متقابل درناوي او همکارۍ فضا پیاوړې کړئ او د علم، اخلاقو او مسلکي مهارتونو په ترلاسه کولو سره د خپل ځان، ټولنې او هېواد لپاره ګټور خدمتونه ترسره کړئ.

باور لرم چې ستاسو هڅې، زیار او استقامت به نه یوازې ستاسو د علمي بریا لامل شي، بلکې د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ لپاره به هم ارزښتناکه ونډه ولري.

ستاسو د علمي بریاوو، نېکمرغۍ او روښانه راتلونکي په هیله.

**په درنښت**

**نوماند پوهنیار الله محمد رازدار**

**د کمپیوټر زده کړې څانګې آمر**

**لوړو زده کړو وزارت**

**لوګر پوهنتون**

**علمي او محصلانو چارو معاونیت**

**ښوونې او روزنې پوهنځی**

**کمپیوټر زده کړې څانګه**

دمحصلانو لارښود کتاب د کمپیوټر زده کړې څانګې په (۷) ګڼه پروتوکول او ۱۴۰۴/۶/۱ ه ش مطابق ۱۴۴۷/۲/۳۰ نېټې شورى کې ثبت او تائید دی .

**د کمپیوټر زده کړې څانګې آمر**

**نوماند پوهنیار الله محمد رازدار**

لاسلیک (                    )

---

دکمپیوټر زده کړې څانګې د محصلانو لارښود کتاب د ښوونې او روزنې پوهنځي په (۸) ګڼه پروتوکول او ۱۴۰۴/۸/۲۲ نېټه شورى کې ثبت او تائید دی .

**د ښوونې او روزنې پوهنځي رئیس**

**پوهندوی میرویس ستانکزی**

لاسلیک (                    )

# فهرست عناوین

**عنوان** **صفحه**


**لومړی فصل: عمومي معلومات** ........ ج

۱/۱ د پوهنتون پېژندنه ........ ج

۱/۲ د پوهنځي او ډیپارټمنټ پېژندنه ........ 1

**لرلید (Vision)** ........ 1

**رسالت (Mission)** ........ 1

**ستراتیژیکي موخې (Strategic Goals)** ........ 1

**ارزښتونه (Objectives)** ........ 2

**د کمپیوټر زده کړې څانګې جوړښت او تشکیلات** ........ 2

**د کمپیوټر زده کړې څانګې د علمي کادر غړو احصائیه** ........ 2

**دوهم فصل : مقررات او عمومي لارښوونې** ........ 3

۲/۱ د پوهنتون عمومي اصول او ارزښتونه ........ 3

۲/۲ د ټولګي اصول ........ 3

**درېیم فصل: د کرېډېټ لایحه** ........ 4

۳/۱ د کرېډیټ سیستم تعریف ........ 4

**3.4 د کمپیوټر زده کړې څانګې نصاب** ........ 6

**1.1.1. لومړی سمستر** ........ 6

**1.1.2. دویم سمستر** ........ 7

**1.1.3. دریم سمستر** ........ 8

**1.1.4. څلورم سمستر** ........ 9

**1.1.5. پنځم سمستر** ........ 10

**1.1.6. شپږم سمستر** ........ 11

**1.1.7. اووم سمستر** ........ 12

**1.1.8. اتم سمستر** ........ 13

**څلورم فصل: خدمات او فرصتونه د محصلینو لپاره** ........ 14

۴/۱ د کمپیوټر لب پېژندنه ........ 14

۴/۲ د کمپیوټر لب د استفادې شرایط ........ 14

**4.3 کتابتون او درسي منابع** ........ 15

........ 15

4.4 د انټرنېټ او ډیجیټلي خدماتو وړاندې کول ........ 16
4.5 علمي او اکاډمیک مشورتي خدمات ........ 16
4.6 علمي سفرونه ........ 17
**پنځم فصل: کاری  فرصتونه ........ 17**
6.1 دکمپیوټر زده کړې ځانګې کاري فرصتونه ........ 17

# لومړی فصل: عمومي معلومات

## ۱/۱ د پوهنتون پېژندنه

لوګر پوهنتون په ۱۳۹۳ هـ.ش کال کې خپل علمي او اکاډمیک فعالیت د کیمیا-بیولوژی او ریاضي-فزیک له دوو ډیپارټمنټونو سره پیل کړ. دغه پوهنتون اوس مهال څلور پوهنځي لري چې په لاندې ډول دي:

د ښوونې او روزنې پوهنځی :د کمپیوټر زده کړه، کیمیا، فزیک، ریاضي، بیولوژي، انګلیسي او اسلامي ثقافت.

د کرنې پوهنځی :اګرونومي او کرنیز اقتصاد او پراختیا.

د شرعیاتو پوهنځی :فقه او قانون، او اسلامي تعلیمات.

د جیولوجی او کانونو پوهنځی :د کانونو اکتشاف او استخراج.

لوګر پوهنتون د هېواد له معتبرو لوړو زده کړو بنسټونو څخه دی، چې په بېلابېلو علمي څانګو کې د معیاري او باکیفیته زده کړو زمینه برابروي. د دې پوهنتون اساسي موخه د داسې مسلکي، ژمنو او وړ کادرونو روزنه ده چې د هېواد د علمي، تخنیکي او ټولنیز پرمختګ لپاره اغېزمن خدمتونه ترسره کړي.

## ۱/۲ د پوهنځي او ډیپارټمنټ پېژندنه

د کمپیوټر زده کړې څانګه د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې د لوړو زده کړو وزارت د (۲۲۶۸) ګڼې وړاندیز، د ۴/۹/۱۴۴۴ هـ ق نېټې او د ریاست‌الوزرا د عالي مقام د (۳۳۰۵) ګڼې حکم د ۱۰/۹/۱۴۴۴ هـ ق نېټې پر بنسټ ایجاد او په رسمي ډول یې خپل علمي فعالیت پیل کړ.

د کمپیوټر زده کړې څانګې د لومړي ځل لپاره د ۱۴۰۳ هـ ش کال د خزاني سمستر لپاره (۸۱) تنه محصلین جذب کړل چې تر اوسه پورې خپلو زده کړو ته دوام ورکوي.

دا څانګه په اوسني وخت کې څلور تنه علمي کادر غړي لري، چې له دې جملې څخه یو تن د کابل پوهنتون د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د ماسترۍ په پروګرام کې په تحصیل بوخت دی، او پاتې درې تنه د څانګې او پوهنتون په کچه د تدریس او علمي چارو مسؤلیت پر غاړه لري.

د یادولو وړ ده چې په اوس وخت کې د کمپیوټر زده کړې څانګې (۱۰۲) تنه محصلین د لیسانس دورې په بېلابېلو علمي سمسترونو کې خپلو زده کړو ته دوام ورکوي.

### لرلید (Vision)

د کمپیوټر زده کړې څانګه هڅه کوي چې د معیاري تدریس له لارې مسلکي کادرونه او ښوونکي وروزي، څو د هیواد په کچه مثبت بدلون رامنځته کړي او یوه منل شوې څانګه وګرځي.

### رسالت (Mission)

د کمپیوټر زده کړې څانګه د معیاري تحصیلي نصاب، عصري تدریسي میتودونو، معاصرې ټکنالوژۍ او څېړنیز مهارتونو پر بنسټ سمبال ژمن، مسلکي کادرونه او ښوونکي روزي.

### ستراتیژیکي موخې (Strategic Goals)

1. په اسلامي او ملي روحیه سمبال متخصص کادرونه او ښوونکي روزل.
2. د کمپیوټر په برخه کې دداسې نظري او عملي پروګرامونو جوړول چې د ورځني ژوند د مشکلاتو د حل لپاره ترې کار واخیستل شي.
3. د څېړنیزو پروژو په مرسته د ټولنې ستونزو ته د حل لاره لټول.
4. په محصلینو کې د څېړنو مهارتونه لوړول.
5. محصلین د کمپیوټر ساینس له مهمو برخو لکه پروګرامینګ، معلوماتي سیستمونو، شبکه جوړونې او نورو سره اشنا کول.
6. په معلوماتي تکنالوژۍ او عصري مېتودونو سمبال تدریس.
7. د څانګې د کمي او کیفي ارتقا لپاره علمي، مسلکي او تخصصي لاربښوونو څخه کار اخیستل.
8. د یوې فزیکي او ډیجیټلي کتابخانې جوړول د څانګې په کچه.
9. د نورو پوهنځیو محصلین له نوې ټکنالوژۍ سره اشنا کول او هغوی ته د بازار د اړتیاو سره سم وړتیا ورکول
10. د علمي مقالو او څېړنو خپرول

### ارزښتونه (Objectives)

1. اسلامي، ملي اخلاقو او مسلکي اصولو ته ژمنتیا.
2. نوښتونه رامنځ ته کول او پلي کول
3. د چارو روڼتیا او حساب ورکول
4. د عدالت او برابرئ تأمینول
5. چاپیریال ساتنه
6. په هر اړخیز پرمختګ کې ګډ کار
7. فرصتونه پېژندل او له شته امکاناتو او فرصتونو ګټه اخیستل

### د کمپیوټر زده کړې څانګې جوړښت او تشکیلات

د کمپیوټر زده کړې څانګه اوس مهال څلور تنه غړي لري چې په لاندې ډول دي.




### د کمپیوټر زده کړې څانګې د علمي کادر غړو احصائیه

| د کمپیوټر زده کړې څانګې د علمي کادر غړو احصائیه | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | نوم | تخلص | د پلار نوم | علمي رتبه | د تحصیل درجه | تحصیلي څانګې | تقرر نېټه | کاري تجربه | علمي آثار | د علمي مقالو خپرېدل | کتنې |
| ١ | الله محمد | رازدار | راز محمد | نوماند پوهنیار | لیسانس | کمپیوټر ساینس | ١۴٠٣/٦/٢٩ | ٢ | ٠ | ٢ | |
| ٢ | بریالی | رؤفي | رحیم ګل | نوماند پوهنیار | لیسانس | کمپیوټر ساینس | ١۴٠١/٧/٦ | ۴ | ٠ | ٢ | |
| ٣ | عبدالقادر | سادات | سید حضرت شاه | نوماند پوهنیار | لیسانس | کمپیوټر ساینس | ١۴٠٣/٧/٢٦ | ٢ | ٠ | نلري | |
| ۴ | کریم خان | منګل | یار محمد | نوماند پوهنیار | لیسانس | کمپیوټر ساینس | ١۴۴٧/١١/١ | ٢ م | ٠ | نلري | |

## دوهم فصل : مقررات او عمومي لارښوونې

دا برخه هغه ټول قوانین او اصول بیانوي چې هر محصل یې د پوهنتون او ټولګي په چاپېریال کې په رعایت کولو مکلف دی. د دغو اصولو نه مراعات د انضباطي ستونزو سبب ګرځېدای شي. دغه مقررات د محصل سلوک د ټولګي دننه او بهر تنظیموي او د یو منظم، اغېزمن او معیاري تعلیمي چاپېریال د رامنځته کولو لپاره یې مراعات اړین دي.

### ۲/۱ د پوهنتون عمومي اصول او ارزښتونه

- د اسلامي او ملي ارزښتونو درناوی
- د نورو حقوقو ته احترام او مراعات
- د پوهنتون د بېلابېلو برخو د اصولو پابندي
- د پېژندنې کارت (ID) له ځان سره درلودل
- د پوهنتون د چاپېریال پاکوالي ته پاملرنه
- د پوهنتون د وسایلو او زیربناوو ساتنه او له زیان رسولو څخه ډډه کول
- د اداري او اکاډمیکو کارکوونکو د امرونو اطاعت او درناوی

### ۲/۲ د ټولګي اصول

- د اسلامي اصولو مراعات
- په ټاکلي وخت (On time) حاضریدل
- حاضري دوه ځله اخیستل کېږي: د درس په پیل او د درس په پای کې
- د اړتیا په صورت کې د نوټ اخیستلو کتابچه له ځان سره درلودل (سپارښتنه)
- د نورو مضامینو مطالعه د درس پر مهال نه کول
- د موبایل خاموش ساتل او د اړتیا پرته له ځواب ورکولو ډډه کول
- د درسي موادو له ځان سره درلودل او له غیر ضروري وسایلو ډډه کول
- پوښتنې د درس په پای کې کول
- د ټولګي او پوهنتون د پاکوالي ساتل
- د استاد او همصنفیانو ترمنځ متقابل احترام او د نورو سپکاوی نه کول
- په ډله‌ییزو فعالیتونو کې فعال ګډون
- د بې ځایه خبرو او شور څخه ډډه کول
- د تدریسي بهیر د ګډوډۍ څخه ډډه کول
- د کورني کارونو ترسره کول
- مناسب ظاهري بڼه
- د نظم او انضباط ټولو قوانینو مراعات

- د کمپیوټر لب د اصولو مراعات، د وسایلو سمه استفاده او د تخنیکي وسایلو ساتنه

## دریيم فصل: د کریډیټ لایحه

د کردیت سیستم په نړۍ کې د یو معیاري او اغېزمن تعلیمي سیستم په توګه کارول کېږي، چې اساسي موخه يې د محصل فعال ګډون، مسؤلیت اخیستنه او د زده کړو د کیفیت لوړول دي.

### ۳/۱ د کریډیټ سیستم تعریف

کردیت د درسي واحد په معنی دی چې پر بنسټ يې د یوې تحصیلي څانګې د اتو سمسترونو نصاب تنظیمېږي او د هر مضمون ونډه او ځانګړتیاوې مشخصېږي.

په بل عبارت، کردیت د یوې اوونۍ په جریان کې د یو مضمون د درسي ساعتونو شمېر ته ویل کېږي، چې هر درسي ساعت ۵۰ دقیقې وخت لري.

بېلګې:

مضمون تجوید ← ۱ کردیت ← په اوونۍ کې یو درسي ساعت

مضمون انګلیسي ← ۲ کردیت ← په اوونۍ کې دوه درسي ساعتونه

۳,۲ د کردیت سیستم مهمې مادې

د لیسانس دورې موده په اوسط ډول ۴ کاله ده.

د لیسانس دورې لپاره لږ تر لږه ۱۳۶ او زیات تر ۱۶۸ کردیتونه تپاکل شوي دي.

د لیسانس دورې مضامین په لاندې ډول وېشل کېږي:

تخصصي مضامین: لږ تر لږه ۵۰٪

اساسي مضامین: تر ۳۰٪ پورې

پوهنتون‌شموله او اختیاري مضامین: ۱۲٪

مونوګراف او د پروژې دفاع: ۸٪

یو مضمون په یوه ورځ کې له دوو کردیتونو زیات نه تدریس کېږي، البته عملي او ساحوي مضامین مستثنا دي.

یو مضمون په اوونۍ کې تر پنځو کردیتونو پورې تدریس کېدای شي.

د محصل درسي مکلفیت په یوه سمستر کې له ۱۷ تر ۲۱ کردیتونو پورې وي.

د امتحان لپاره د ګډون شرط لږ تر لږه ۷۵٪ حاضري پوره کول دي. هغه محصل چې له ۲۵٪ څخه زيات غیرحاضري ولري، له امتحان څخه محروم ګڼل کېږي.

د کامیابۍ نمره د هر مضمون لپاره لږ تر لږه ۵۵ ده، او په سمستر کې د عمومي اوسط ۶۰٪ پوره کول هم اړین دي.

که محصل دوه ځله پرله‌پسې د ۶۰٪ اوسط پوره نه کړي، اخطار ورکول کېږي. که دریم ځل هم ناکام شي، له پوهنتون څخه دايمي اخراجېږي.

د راتلونکي سمستر ته ارتقا د هماغه سمستر د نیمايي څخه په زیاتو کردیتونو کې د بریا پر بنسټ ترسره کېږي.

که محصل د سمستر په زیاترو کردیتونو کې ناکام، محروم یا غیر حاضر شي، سمستر تکراروي او راتلونکي کال بیا هماغه سمستر ته راګرځي.

که دوه ځله پرله‌پسې په زیاترو کردیتونو کې ناکامي تکرار شي، محصل له پوهنتون څخه اخراجېږي.

۳,۳ د ارزونې سیستم

د کردیت سیستم د ارزونې طریقه په لاندې څلورو برخو وېشل شوې ده:

۱۰٪ د ټولګي فعال ګډون او حاضري

۱۰٪ کورني کارونه او د سیمینارونو برابرول او وړاندې کول

۲۰٪ د منځنۍ سمستر ازموینه

۶۰٪ نهايي ازموینه

په ازموینو کې څو انتخابي، مقابلوي، لنډ ځواب، تشریحي محدود، تحلیلي او تشریحي پراخ ډول سوالونه شامل وي، چې د آسانه، متوسط، سخت او مفهومي سطحو پوښتنې پکې راځي.

د ازموینو پایلې تر اعظمي پنځو ورځو پورې اعلانېږي او محصلین کولای شي خپلې نمرې د HEMIS سیستم له لارې وګوري. که کوم محصل له خپلې نمرې څخه قناعت ونه لري، د اعتراض حق لري او د هغه د ازموینې پاڼه د امتحاناتو کمېټه له سره ارزوي. د اعتراض نتیجه د ځانګړې کمېسیون له خوا محصل ته رسېږي او د هېڅ محصل حق نه ضایع کېږي.

## 3.4 د کمپیوټر زده کړې ځانګړې نصاب

د کمپیوټر زده کړې ځانګړې اوسنی نصاب د لوړو زده کړو وزارت د علمي معیارونو او رسمي لارښوونو پر بنسټ ترتیب شوی دی. دا نصاب د ۱۴۰۳ هـ ش کال په جریان کې د رسمي مکتوب له لارې د پکتیا پوهنتون څخه د اړوندو علمي مراجعو په استازیتوب ترلاسه او د تطبیق لپاره منظور شوی دی.

په دغه نصاب کې د هر مضمون عمومي معلومات، د تدریس موخې، د زده کړې پایلې او تفصیلي علمي محتوا په منظم او معیاري ډول ځای پر ځای شوې ده، ترڅو د تدریس بهیر د معاصر علمي معیارونو مطابق پر مخ یوووړل شي. یاد نصاب د لوړو زده کړو وزارت د نافذو اصولو له مخې د ټاکلې مودې لپاره اعتبار لري او د اړتیا پر مهال د وزارت د علمي کمېټو له خوا د بیاکتنې او تعدیل لاندې راتلای شي.

| شمېره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه: نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | کرېډیټونو شمېر | د تدریس چارې یې پر غاړه لري هغه پوهنځی او یا دیپارټمنټ چې | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **1.1.1 لومړی سمسټر** | | | | | | | | | | | |
| 1 | کمپیوټر اساسات | Ns.cs 111 | تخصصي | ۳۲ | ۳۲ | ۳ | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړې | - | |
| 2 | عمومي فزیک | Ns.cs 112 | اساسي | ۴۸ | ۰ | | ۴۸ | ۳ | فزیک | - | |
| 3 | عمومي ریاضي | Ns.cs 113 | اساسي | ٦۴ | ۰ | | ٦۴ | ۴ | ریاضي | - | |
| 4 | چلیز سیستم ۱ | Ns.cs 114 | تخصصي | ۱۴ | ۵۰ | | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 5 | عمومي اروارپوهنه | Ns.cs 115 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اروارپوهنه | - | |
| 6 | د اسلام اعتقادي نظام | Sl.ic-0171 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 7 | تلاوت او تجوید | Sl.IC-0172 | پوهنتون شمول | ۰ | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۲۲۲ | ۹۸ | ۳ | ۳۲۰ | ۲۰ | | | |

### 1.1.2. دویم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| 1 | هارډویر | Ns.cs 121 | تخصصي | ۴۰ | ۲۴ | ۳ | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 2 | منطق ریاضي | Ns.cs 123 | اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | ریاضي | عمومي ریاضي | |
| 3 | انکشافي ارواپوهنه | Ns.cs 124 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | ارواپوهنه | - | |
| 4 | معاصر تاریخ | Ns.cs 125 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | تاریخ | - | |
| 5 | د پروګرام لیکنې اساسات | Ns.cs 126 | تخصصي | ۲۴ | ۴۰ | ۳ | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 6 | انګلیسي ۱ | Ns.cs 128 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | ۰ | ۳۲ | ۲ | انګلیسي | - | |
| 7 | د اسلام عبادتي نظام | Sl.ic-0273 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | ۰ | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 8 | سیرت | Sl.ic-0274 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | ۰ | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۲٥٦ | ٦۴ | ٦ | ۳۲۰ | ۲۰ | | | |

### 1.1.3. دریم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| 1 | شبکي اساسات | Ns.cs 231 | تخصصي | ۴۰ | ۲۴ | ۲ | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 2 | احصایه | Ns.cs 232 | اساسي | ۴۸ | ۰ | | ۴۸ | ۳ | ریاضي | - | |
| 3 | تعلیمي ارواپوهنه | Ns.cs 233 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | ارواپوهنه | - | |
| 4 | الکترونیک | Ns.cs 234 | تخصصي | ۳۲ | | ۰ | ۳۲ | ۲ | فزیک | - | |
| 5 | جاوا ۲ | Ns.cs 235 | تخصصي | ۱۲ | ۵۲ | ۳ | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 6 | د اسلام اخلاقي نظام | Sl.ic-0375 | پوهنتون شمول | ۳۲ | | ۰ | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 7 | د اسلام ټولنیز نظام | Sl.ic-0376 | پوهنتون شمول | ۳۲ | | ۰ | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 8 | انګلیسي ۲ | Ns.cs 237 | پوهنتون شمول | ۳۲ | | ۰ | ۳۲ | ۲ | انګلیسي | - | |
| مجموعه | | | | ۲٦۰ | ۷٦ | ۵ | ۳۳٦ | ۲۱ | | | |

## 1.1.4. خلورم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| 1 | تیوري احتمالات | Ns.cs 241 | اساسي | ۴۰ | ۸ | ۰ | ۴۸ | ۳ | ریاضي | - | |
| 2 | د ډیټابیس اساسات | Ns.cs 243 | اختصاصي | ۴۰ | ۲۴ | ۳ | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 3 | ویژول بیسیک ډاټ نیټ | Ns.cs 244 | اختصاصي | ۱۲ | ۵۲ | ۳ | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | جاوا ۲ | |
| 4 | شبکه ۲ | Ns.cs 245 | اختصاصي | ۴۰ | ۲۴ | ۳ | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | شبکې اساسات | |
| 5 | اکاډمیکه انګلیسي | Ns.cs 247 | تخصصي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | انګلیسي | - | |
| 6 | فکري پوهنه | Sl.ic-0477 | پوهنتون شمول | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 7 | ادیان او مذاهب | Sl.ic-0478 | پوهنتون شمول | ۱٦ | | | ۱٦ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |
| | مجموعه | | | ۲۱۲ | ۱۰۸ | ۹ | ۳۲۰ | ۲۰ | | | |

## 1.1.5. پنځم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| 1 | سي شارپ | Ns.cs 351 | اختصاصي | ۱۶ | ۴۸ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 2 | تدریس عمومي میتود | Ns.cs 352 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |
| 3 | بې سیمه شبکه | Ns.cs 353 | اختصاصي | ۳۲ | ۱۶ | ۳ | ۴۸ | ۳ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 4 | پرمختللې ډیټابیس | Ns.cs 354 | اختصاصي | ۱۶ | ۴۸ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 5 | بدني روزنه | Ns.cs 355 | پوهنتون شمول | ۲۰ | ۱۲ | ۰ | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |
| 6 | چاپیریال ساتنه | Ns.cs 357 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | بیولوژي | - | |
| 7 | د اسلام سیاسي نظام | Sl.ic-0579 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 8 | د اسلام اداري نظام | Sl.ic-0580 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۲۴۴ | ۱۲۴ | ۹ | ۳۶۸ | ۲۱ | | | |

## 1.1.6. شپږم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| 1 | ډیتا ستړکچر | Ns.cs 361 | اختصاصي | ۴۸ | ۱۶ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | ډیتابیس | |
| 2 | ارزيابي | Ns.cs 362 | مسلکي / اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اروپوهنه | - | |
| 3 | د کمپیوټر درسي میتود | Ns.cs 363 | اختصاصي | ۳۲ | ۳۲ | | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 4 | چلیز سیستم ۲ | Ns.cs 365 | اختصاصي | ۸ | ۲۴ | | ۳۲ | ۲ | کمپیوټر زده کړه | چلیز سیستم ۱ | |
| 5 | اسلام اقتصادي نظام | Sl.ic-681 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 6 | ویب ډیزاین اساسات | Ns.cs 364 | اختصاصي | ۱۶ | ۴۸ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| مجموعه | | | | ۱۶۸ | ۱۲۰ | ۶ | ۲۸۸ | ۱۸ | | | |

## 1.1.7. اووم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه: نظري | درسي ساعتونه: عملي | درسي ساعتونه: سمینار، علمي سفر او یا پروژه | درسي ساعتونه: مجموعه | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د شبکې امنیت | Ns.cs 471 | اختصاصي | ۲۴ | ۸ | | ۳۲ | ۲ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 2 | تعلیمی تکنالوژي | Ns.cs 472 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |
| 3 | څېړنه | Ns.cs 473 | اختصاصي | ۳۲ | ۱٦ | | ۴۸ | ۳ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 4 | تدریس میتود | Ns.cs 474 | اختصاصي | ۴۸ | ۱٦ | | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 5 | پرمختللې ویب ډیزاین | Ns.cs 475 | اختصاصي | ۱۴ | ۵۰ | | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 6 | قرآن او معاصر علوم | Sl.ic-0782 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۱۸۲ | ۹۰ | ۰ | ۱۷۲ | ۱۷ | | | |

## 1.1.8. اتم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | د تدریس چارې یې پر غاړه لري هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| 1 | شبکې ډیزاین | Ns.cs 481 | اختصاصي | ۳۲ | ۳۲ | ۴ | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 2 | ویب پروژه | Ns.cs 482 | اختصاصي | ۳۲ | ۳۲ | ۴ | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 3 | تعلیمي اداره | Ns.cs 483 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | ارواپوهنه | - | |
| 4 | مونوګراف | Ns.cs 485 | اختصاصي | ۱۰ | ۵۴ | | ٦۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 5 | تعلیم و تربیې اساسات | Ns.cs 242 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | ارواپوهنه | - | |
| 6 | اسلامي تمدن | Si.ic-0883 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۱۷۰ | ۱۱۸ | ۸ | ۲۸۸ | ۱۸ | | | |

## څلورم فصل: خدمات او فرصتونه د محصلینو لپاره

خدمات او فرصتونه د هر تعلیمي بنسټ له مهمو برخو څخه ګڼل کېږي، چې د محصلینو د استعدادونو د ودې، عملي زده کړو او مسلکي مهارتونو په لوړولو کې اساسي رول لري. په اوسني عصر کې د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د عملي امکاناتو شتون د علمي پرمختګ او د ټولنې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره یو مهم ضرورت ګڼل کېږي.

### ۴/۱ د کمپیوټر لب پېژندنه

د کمپیوټر زده کړې ځانګه کوم ځانګړی خپلواک کمپیوټر لابراتوار نه لري، بلکې د پوهنتون له عمومي کمپیوټر لب څخه د تدریسي او عملي فعالیتونو لپاره استفاده کوي.

په دغه کمپیوټر لب کې محصلین او استادان د بېلابېلو مضامینو د عملي زده کړو، تمرینونو، څېړنیزو کارونو او سافټویرونو د کارونې لپاره له موجودو کمپیوټري وسایلو څخه ګټه اخلي. دغه مرکز د پوهنتون د ټولو اړوندو ځانګو لپاره ګډ علمي او تخنیکي خدمت وړاندې کوي او د محصلینو د عملي مهارتونو په پیاوړتیا کې مهم رول لري.

### ۴/۲ د کمپیوټر لب د استفادې شرایط

د کمپیوټر لب د پوهنتون یو ګډ علمي مرکز دی چې د محصلینو د عملي زده کړو لپاره کارول کېږي. د نظم، انضباط او د وسایلو د خوندي ساتلو په موخه لاندې اصول او مقررات مراعاتول ضروري دي:

- د کمپیوټر لب ته د داخلېدو پر مهال د نظم مراعاتول
- د کمپیوټر وسایلو سمه او مسلکي استفاده
- د خوړو او څښاک څخه د کمپیوټر لب په داخل کې ډډه کول
- د کمپیوټر لب د پاکوالي او نظم ساتل
- د وسایلو لکه کیبورډ، ماوس، سکرین او نورو تجهیزاتو سره احتیاط کول
- د بې اجازې سافټویرونو له نصبولو او کارولو څخه ډډه کول
- د انټرنېټ له غیر علمي او غیر تعلیمي استعمال څخه پرهېز
- د شخصي حساب (Login) معلوماتو خوندي ساتل او له نورو سره نه شریکول
- د USB او بهرنیو وسایلو له کارولو مخکې د ویروس چک کول
- د کمپیوټر سیستمونو او فایلونو له خرابولو، حذفولو یا بدلون څخه ډډه کول
- د هر ډول تخنیکي ستونزې په صورت کې د مسؤل استاد یا تخنیکي کارکوونکي خبرول
- د کار له پای ته رسېدو وروسته کمپیوټرونه سم بندول او ځای پرېښودل
- د چاپ (Printing) وسایلو څخه د اصولو مطابق استفاده کول
- د ګډو وسایلو په کارولو کې نوبت او انصاف ساتل

- د کمپیوټر لب د اداري او تخنیکي لارښوونو بشپړ رعایت

## 4.3 کتابتون او درسي منابع

د کمپیوټر زده کړې څانګې د محصلینو او استادانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د پوهنتون له عمومي کتابتون او د پوهنځي له فرعي کتابتون څخه استفاده کوي.

په دغو کتابتونونو کې د بېلابېلو علمي برخو اړوند معیاري درسي کتابونه، مرجع کتابونه او څېړنیزې سرچینې موجودې دي، چې محصلین او استادان کولای شي د خپلو اړتیاوو مطابق ترې ګټه واخلي. محصلین کولی شي د اړتیا په صورت کې کتابونه د اصولو مطابق په امانت واخلي او د ټاکلې مودې تر پای ته رسېدو وروسته یې بېرته کتابتون ته وسپاري.

د لوګر پوهنتون عمومي کتابتون د زراعت پوهنځي په بلاک کې موقعیت لري، چې په کې د بېلابېلو علمي څانګو اړوند کتابونه او منابع شتون لري. دغه کتابتون د مطالعې لپاره ارامه او مناسب چاپېریال لري، او محصلین کولای شي هره ورځ له ټاکلي وخت څخه استفاده ترې وکړي.

همدارنګه د ښوونې او روزنې پوهنځي په بلاک کې فرعي کتابتون هم شتون لري، چې د محصلینو لپاره د مطالعې او علمي څېړنو اسانتیاوې برابروي.

محصلین کولای شي د کتابونو د امانت اخیستلو لپاره د کتابتون له اصولو سره سم ثبت ترسره کړي او د ټاکلې مودې په دننه کې کتابونه بېرته وسپاري.



## 4.4 د انټرنېټ او ډیجیټلي خدماتو وړاندې کول

لوګر پوهنتون د فایبر نوري انټرنېټ له اسانتیا څخه برخمن دی چې د نږدې ۳۰ Mbps په سرعت سره د پوهنتون په بېلابېلو برخو کې فعال دی. په درسي صنفونو کې ځانګړي شبکوي (Switch) وسایل نصب شوي دي، چې محصلین کولی شي د ځانګړي کیبل په وسیله له لپټاپونو څخه د انټرنېټ له دې اسانتیا څخه استفاده وکړي.

همدارنګه د غرمې له ۱۲ بجو څخه تر ۱ بجې پورې د وای‌فای انټرنېټ خدمت هم د محصلینو لپاره فعال وي، چې د درسي موادو د ډاونلوډ، علمي ګروپونو څخه د استفادې او د اړتیا وړ تعلیمي موادو د ترتیب لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي.

د یادونې وړ ده چې په پوهنتون کې یو عمومي کمپیوټر لب شتون لري چې نږدې ۴۰ نوي کمپیوټرونه لري او ټول یې له انټرنېټ سره وصل دي. محصلین کولای شي په دغه کمپیوټر لب کې خپل عملي درسي مهارتونه پیاوړي کړي او د کمپیوټر اړوند مضامین په عملي ډول زده کړي.

## 4.5 علمي او اکاډمیک مشورتي خدمات

د محصلینو د علمي پرمختګ، ستونزو د حل او د زده کړو د بهیر د ښه مدیریت په موخه، د هر صنف لپاره د ډیپارټمنټ د علمي شورا له لوري یو استاد د استاد رهنما (Advisor) په توګه ټاکل کېږي.

دغه استاد د خپل صنف له محصلینو سره د ټاکلي مهالویش له مخې په هره میاشت کې جلسه ترسره کوي، چې په دې جلسو کې د محصلینو علمي ستونزې، اړتیاوې، نظریات او وړاندیزونه په خلاص او باوري چاپېریال کې له استاد سره شریکېږي. استاد رهنما هڅه کوي چې د امکان تر حده دغه ستونزې حل کړي او د اړتیا په صورت کې موضوع د ډیپارټمنټ له آمریت سره هم شریکه کړي.

د استاد رهنما د میاشتنیو جلسو تمرکز په لاندې برخو وي:

- علمي او اکاډمیک مسائل
- د نظم او انضباط اړوند موضوعات
- د کتابتون، نشراتو او کمپیوټر لب اړوند خدمات

دا مشورتي بهیر یوازې تر جلسو محدود نه دی، بلکې استادان تل هڅه کوي چې د محصلینو د زده کړو ستونزې، د مونوګراف موضوع انتخاب، رواني او تعلیمي خنډونه او نورې اړوندې ستونزې په وخت حل کړي، څو د هغوی د علمي پرمختګ لپاره مناسب چاپېریال برابر شي.

### 4.6 علمي سفرونه

د نظري او عملي زده کړو ترمنځ د اړيکي د پياوړتيا په موخه، د کمپيوټر زده کړي ډيپارټمنټ او لوګر پوهنتون تل هڅه کوي چې د امکان تر حده د محصلينو لپاره د علمي سفرونو (سيرونو) مناسب امکانات برابر کړي.

د دغو علمي سفرونو موخه دا ده چې محصلين د خپلو زده کړو عملي اړخ له نږدې ووينې، د معلوماتي ټکنالوژۍ له حقيقي چاپېريال سره آشنا شي او د کمپيوټر د علم د تطبيق بېلابېل اړخونه په واقعي ژوند او کاري ساحه کې درک کړي. دا سفرونه له محصلينو سره مرسته کوي چې د معاصرې ټکنالوژۍ په بېلابېلو برخو کې عملي تجربه ترلاسه کړي او خپل علمي درک لا پياوړی کړي

## پنځم فصل: کاری  فرصتونه

### 6.1 دکمپيوټر زده کړې ځانګې کاري فرصتونه

یکی از افکاری که همیشه محصلین با آن درگیر هستند این است که بعد از تکمیل دورهٔ تحصیلی خود، به مسلکی مصروف شوند که مطابق و متناسب به رشته‌شان باشد. اغلب محصلین از سمستر اول الی آخرین سمستر همیشه با خود کلنجار رفته که آیندهٔ شغلی من چه خواهد شد؟

رشتهٔ آموزش کمپیوتر در عصر حاضر یکی از پرکاربردترین رشته با داشتن ساحهٔ وسیع کاری است که در پیشرفت و ترقی یک کشور رول اساسی را ایفا می کند. در کشورهای در حال توسعه یا جهان سومی مثل افغانستان، تأثیر این چنین رشته هایی بیش از بقیه کشورها تبارز می کند.

په ټوله کې د کمپيوټر زده کړې ځانګې کاري فرصتونه په لاندې ډول دي:

1. Computer Teacher د کمپيوټر ښوونکی
2. ICT Instructor د معلوماتي ټکنالوژی ښوونکی
3. Data Entry Assistant د معلوماتو داخلولو همکار
4. Data Entry Officer دمعلوماتو داخلولو آمر
5. Computer Operator کمپيوټر کار
6. Office Assistant د دفتر مرستيال
7. IT Support Technician د معلوماتي ټکنالوژي تخنيکي ملاتړ کارکوونکی
8. Network Assistant د شبکې مرستيال
9. Hardware Technician د هارډوير تخنيکر
10. Software Support Officer د سافټوير د ملاتړ کارکوونکی
11. Web Designer د ويب ډيزاينر

12. Graphic Designer د ګرافیک ډیزاینر
13. Freelance Data Entry Worker د آزاد کار د معلوماتو داخلولو کارکوونکی
14. Management Information Systems (MIS) Assistant د معلوماتي سیستمونو مرستیال
15. Management Information Systems (MIS) Officer د معلوماتي سیستمونو آمر